# د اروانباد حمزه شینواری د شعرونو بیلګی

## غزل

تا چې سبا وکړو سبا نه راځي
راشي په هر چا خو په ما نه راځي

بیا دې نو په بیا دی څه باور په کار
سل ځله بیا وکړې، خو بیا نه راځې

وایه زاهد ته ګنا زه کوم
زور خو یې کمبخته په تا نه راځي

خدای دې مین ډېر کړي چې ښېرې کوي
ماله خو نور چل د دعا نه راځي

ښکلیه! چې موسکې په ټیټو سترګو شې
هیڅ دې اندازه د ښکلا نه راځي

عشق دی لکه وخت خو زه حمزه پکې
تل وي په تګ، بیرته په شا نه راځي

## غزل

یا ره چه اسمان ته دې بانه ګورې

ستر ګې دې زما په مخ کښې څه ګورې

ښکلی نظر ستا چه بې قراره دی

زړه یې ترینه ورک شوی دی که زړه ګورې

شوندې دی خواږه خواږه ستونه کړې

HOWD

سترګی داشنا ولې تر خه ګورې

سترګۍ چه دسترګوپه لار زړونه وړې

څوک دتو ری شپی به چیرته غله ګورې

غل دمحبت غلطیدۍ نه شې

څوک چه په محفل کښی چاته نه ګورې

خشکی چه ارمان می چینې سترګې کړې

لاړ دزه په تل کښی می اوبه ګورې

زه حمزه په زړه هم ورکتۍ نه شم

څه پری که اشنا می په لیمه ګورې

## غزل

یا ره چه اسمان ته دې بانه ګورې

ستر ګې دې زما په مخ کښې څه ګورې

ښکلۍ نظر ستا چه بې قراره دۍ

زړه یې ترینه ورک شوی دی که زړه ګورې

شوندې دی خوارِه ستونه کړې

سترګی داشنا ولې تر خه ګورې

سترګۍ چه دسترګوپه لار زړونه وړې

څوک دتو ری شپی به چیرته غله ګورې

غل دمحبت غلطیدۍ نه شې

څوک چه په محفل کښی چاته نه ګورې

خشکی چه ارمان می چینې سترګې کړې

لاړ دزه په تل کښی می اوبه ګورې

زه حمزه په زړه هم ورکتۍ نه شم

څه پری که اشنا می په لیمه ګورې

هود
HOWD

## جفا

ماچه دمينې ابتدا ا وکړه

تا په ستم کې انتها  ا وکړه

نن مې ساقې ته چه انکار اوکړه

دا مې روا که نا روا اوکړه

ای دفطرت نه بې خبر واعظه

بس کړه رندانو ته دعا اوکړه

زلفې مې شکل کړې ستا ، چه تا به ويل

چه دسودا دې څه دوا وکړه

يو اسويلې مې دزړه ډاډ پاتې وو

دا دځوانې خبره چا اوکړه؟

دمينې غم څه عجيبه ِغوندې دی

چا ترې خندا او چا ژړا اوکړه

ما ورته ويل چه څه اقرار وو زمونږ

وې  چه ته دا خبره بيا اوکړه

راغله خلوت ته دنکهت قاصدان

سپرليه تا ډيره خطا اوکړه

دا به په تاهم ازميښت وې زما

څه از ميښت خو ته په ما اوکړه

ګل په پښه کې داغزو ښکارې

بلبله تا ولې ژړا  اوکړه

شوې دقفس سره آشنا بلبله

چه په بهار دی زړه هوا اوکړه

که په څو ډوله دې ځان پټ کړو آشنا

په هر انداز کښې دې ريا اوکړه

ګل درخسار دې په کوم خيز وغوړيد

HOWD
هـــوډ

چه شکریه مې ستا حیا اوکړه

اوښکو سحر شو، که اشنا راغې

څنګه ناڅاپه مو رڼا اوکړه

حمزه دوخت غوندې ټال نه شو ، لاړ

وایې یاران چه یې جفا اوکړه

## نفس

ژوند ي پا تی په تریاقودمذهب شې

يود روح دپاره روګ دي ،روګ به وې

په کښی پاتی چه شر بت دنیکی نهّ شی

دا بی خوند ه ګنی‌پوک دي، پوګ به وی

د فینی پکښی پرتي دی خبر نه دی

بی خبرته ځکه خوړ دی ،خوړ به وی

د مرګ سوړه ده چه ول ځنی او باسی

ګنی یار د نفس خوکوړ دی ،کوړ به وی

## پښتون اشنا

پـــام چـــه تمنا دې بې نښې نـــه شې
لنډې مرحلې چـــه دې اوړدې نـــه شې

عشقه پښیمانئ پـــه میو مستې کـــړه
پـــام کوه چـــه جوړې ترې توبې نـــه شې

داسې اوبـــه هم ســـاقی لرې کـــه نه
کیف ئې وې سیوا خو سترګې سرې نه شې

هـــومره مـــې ځوانئ د غـــزل پـــاتې دې
خو چـــه ورکې ستا ښکلې غمزې نـــه شې

HOWD هوډ

تللې دی حمزه پښتـــــــون اشنا وتـــــــــه
بیخه را واپس بــــــه مې جرګې نــــــه شی

## غزل

دادچا دتخیل خیری ګریوان دې

دپښتو ادب سحر خنده افشان دې

داد ب ګلونه سترګی دشهلآ کړې

انتظاردتما شې دکوم جانان دې

پلوشو د کوم لمر مخې خبر راوړو

چه هر زړه یې لکه شبنم هسې چشمان دې

رنګینی کړې په منظر کښې پټ پتا ڼې

که ګل پوشه،،پرې خوبه،، بیابان دې

نسیم یوړی لو پټی دنکهتونو

شر منګیره خنده ګل کوی پریشان دې

،،ستوری خند،، دشاعری اوراورکی شول

په اسمان دتخیل کښې چراغان دې

په لیمه دژړغونې عند لیب کښې

رنګ دسرو ګلو شوخې کوې خندان دې

دخپل بوی په تار پیلې دې ګلونه

ورک دفکر دسهری ځنی ګریوان دې

دبوډی په ټال کښی مستی ځوانې زانګې

دوصال دخوب جوټو، وړی ارمان دې

مځکه هم له ،،بخملینې خندا،،شنه ده

ته به وایې چه شینکی تری ځې روان دې

نداره د نندارچې دسترګو تور شوه

تور دسترګو نداره دهر چشمان دې

هر بلبل يې دبقا سندرى وايې

دپښتو دباغ مليار عبدالرحمن دې

په وربل يې دجانان چه سر خندلو

نن هغه ليونى ځان دهر جانان دې

حمزه څومره خوشبختې دپښتنو ده

چه په لأس يې درحمان بابا ديوان دې

## طلب

په طلب دى د حباب غوندى چشمان يم

ستا د مېنې سيند اخستى يم روان يم

كه قطره يم زۀ خو تۀ د حسن لمرئ

ستا د ميني د سپرلى نه ګلستان يم

د زړو شرابو څښل نوي ژوندون دي

شى توبه د ځوانى مرګه زه دي ځوان يم

ما قطرې ته ګله كم نظراو نۀ كړى

په دويم ځله راترِ كښى به باران يم

درا ترِ احسان دي خس همره هم نشته

وس له عشقه چه ګر داب هسې ګردان يم

دا دماغ د له سنګاره مخكښى نۀ وه

ا ځګ درته خه ا و و يل حيران يم

حېرانى د هر تصوير د پاره روح د ئ

چه كوم رنګ دى په ديدن كړم هغه شان يم

ګله خبر دى چه مى ستا په زړۀ كښي ځاي شته

كه د بوئ غوندي و حشى او پريشان يم

حمزه خه شى كه د هوش بخى پر شوى

د عا شق په پير هن كښې ګر يبا ن يم

## غزل

په ساده سترګو کې دې غلا پېژنم
هر څه دې پېژنم چې تا پېژنم

زه خو څه نه وایم موسېږې ولې
بې لوظه یاره زه خو تا پېژنم

جار دې له زلفو نقاب مه اچوه
زه خو هم شپه او هم سبا پېژنم

ته به مې پېژنې دروغ به نه وي
زه خو دې شکلیه په رښتیا پېژنم

کله ساقي کله پیالې ته ګوري
زه به محفل کې وارخطا پېژنم

د ډېره سوخته په خندا شوې حمزه
دا دویم رنګ دې له ژړا پېژنم

## غزل

ندی مې څه پرېوت چې سر پرېوت
نن زما سر د چا په در پرېوت

لکه سپند په کډېدو شومه زه

خدای زده په ما د چا نظر پرېوت

داسې ناڅاپه بې خبر غوندې شوم
غوږ کې زما د چا خبر پرېوت

لامې همت دی د ځوانی په هوا
خیر که په پر زما وزر پرېوت

لکه غبار د انتظار په ګوته
زما په سترګو کې سحر پرېوت

مینې څه نوی اړخ بدل کړو آشنا
ستا نه مې زړه کې نن خطر پرېوت

تیر یې بهار شو د ځوانی، راعی
پوخ شو، د څانګې نه ثمر پرېوت

ډېر تعلق د دنیا پرې ویستمه
چې سیلی راغله دروند شجر پرېوت

څوک په ستنه له میخانې شو په خود؟
خو څوک دننه څوک بهر پرېوت

ځان ته په مینه کې کوم سر چې وي سر
سر چې په مینه شو په سر پرېوت

حمزه هر داغ شو مسکی لاړو آشنا
ستورو برېښنا وکړه چې نمر پرېوت

## غزل

ټینګه په وعده نه شوې دا څه چل دی
کلکه پښتنه نه شوې دا څه چل دی

ډېره کستاخي مې نظر اوکړله!
ماته ولې سره نه شوې دا څه چل دی

ته مې مخ رڼې د ماښامونو یې
سوزې خو ډیوه نه شوې دا څه چل دی

تا خو د وختونو پروا نه کړله
لاړې راستنه نه شوې دا څه چل دی

ټنډه د حمزه وې د قسمت غوټه
مړ شو ته خوره نه شوې دا څه چل دی

## غزل

ماچه دمینې ابتدا ا وکړه
تا په ستم کې انتها  ا وکړه
نن مې ساقې ته چه انکار اوکړه
دا مې روا که نا روا اوکړه
ای دفطرت نه بې خبر واعظه
بس کړه رندانو ته دعا اوکړه
زلفې مې ښکل کړې ستا ، چه تا به ویل
چه دسودا دې څه دوا وکړه
یو اسویلې مې دزړه ډاډ پاتې وو
دا دڅوانې خبره چا اوکړه؟
دمینې غم څه عجیبه ِغوندې دی

HOWD هود

چا ترې خندا او چا ژړا اوکړه

ما ورته ويل چه څه اقرار وو زمونږ

وې  چه ته دا خبره بيا اوکړه

راغله خلوت ته دنکهت قاصدان

سپرليه تا ډيره خطا اوکړه

دا به په تاهم ازميښت وې زما

څه از ميښت خو ته په ما اوکړه

ګل په پښه کې داغزو ښکارې

بلبله تا ولې ژړا  اوکړه

شوې دقفس سره آشنا بلبله

چه په بهار دی زړه هوا اوکړه

که په څو ډوله دې ځان پټ کړو آشنا

په هر انداز کښې دې ريا اوکړه

ګل درخسار دې په کوم ځيز وغوړيد

چه شکريه مې ستا حيا اوکړه

اوښکو سحر شو، که اشنا راغی

څنګه ناڅاپه مو رڼا اوکړه

حمزه دوخت غوندې ټال نه شو ، لاړ

وايې ياران چه يې جفا اوکړه

www.howd.org